# په روغتون کي داخله کول  یا بستر کول د یوه روغتون د امرپه واسطه پرته له بندیزونو

(د 1983 د دماغي روغتیا لایحه، 37 برخه)

| |
|---|
| 1. د ناروغ نوم |
| 2. د هغه کس نوم چه ستاسو د مواظبت صلاحیت لري (ستاسو ً د معالجي مسئول شخص ً ) |
| 3. د روغتون نوم او برخه |
| 4. روغتون ته ستاسو د راتگ د امریه نیټه |

## ولي زه په روغتون کي یم؟

تاسو په دغه روغتون کي د محکمي د امر په اساس ساتل کیږي . محکمي ویلي دي چه تاسو د 1983 د دماغي روغتیا د لایحه تر 37 برخه لاندي دلته ساتل کیږي.

دغه  د دً روغتون امر ً په نامه یادیږي. دغه دا معني لري چه دوه ډاکترانو محکمي ته ویلي دي چه دوي فکر کوي چه تاسو یوه دماغي ناروغي لري او تاسو ضرورت لري چه په روغتون کي پاته شي.

## څومره موده به زه دلته یم؟

تاسو دلته د لمړي ځل دپاره تر شپږ میاشتو پوري ساتل کیږي ځکه هغه علاج چه تاسو ضرورت ورته لري تاسو ته ورکول کیږي.

تاسو د دغه مودی په جریان کي باید روغتون ترک نه کړي بغیر د دي نه چي ستاسو د مواظبت با صلاحیت شخص (ستاسو د معالجي مسئول شخص ) تاسو ته ووایي چه تاسو کولاي شي. که چیري تاسو وغواړي چه روغتون ترک کړي، کارکونکی تاسو راگرځولي شي، او که چیري تاسو روغتون ترک کړي وي ، تاسو بیرته راوړل کیږي.

## بیا به څه کیږي؟

ستاسو د معالجي مسئول شخص  کیداي شي تاسو ته ووایي کله چي دوي فکر وکړي چه ستاسو روغتیا په کافي توگه ښه شوی ده، چه روغتون ترک کړي. که چیري ستاسو د معالجي مسئول شخص  فکر وکړي چه تاسو ضرورت لري چه د علاج دپاره په روغتون کي د شپږ میاشتو نه زیاد پاته شي، دوي تجدید کولاي شي چې تاسو په روغتون کي د نورو شپږ میاشت دپاره پاته

## ايا زه درخواست (دعوی) کولاي شم؟

هو. تاسو کولاي شي چه د محکمي څخه غوښتنه وکړي چه ستاسو قضيه بيا وګوري . که چيري تاسو وغواړي چه دغه کار وکړي باید ژر ترژر يی وکړي، او ښه به دا وي چه تاسو يو وکيل وغواړي چه ستاسو سره مرسته وکړي. د روغتون د کارکونکو څخه په دی باره کي غوښتنه وکړی او دوي تاسو ته بل نشريه ورکوي .

همداراز تاسو کولاي شي چه د روغتون د منيجرانو نه وغواړي چه تاسو ته د روغتون ترک کولو اجازت درکړي. تاسو دغه هر وخت کولاي شي. د روغتون منيجران د اشخاصو يو خاصه کميته ده چه د روغتون په د ننه کي فيصله کوي چه ايا دغه خلک بايد په روغتون کي وساتل شي. د روغتون منيجران غواړي چه تاسو سره د روغتون د ترک کولو د اجازی د فيصلي څخه د مخه خبري وکړي. که چيري تاسو وغواړي چه دغه کار وکړي تاسو کولاي شي چه دوي ته دغه شي په دغه آدرس وليکي:

او يا تاسو کولاي شي چه د کارکونکو د يوه غړي څخه غوښتنه وکړي چه تاسو ته د روغتون د منيجرانو سره د ارتباط په هکله مرسته وکړي.

پس له دي څخه چه ستاسو د روغتون حواله د شپږ مياښتو دپاره تعين شوه ، تاسو دواړه يعني تاسو او ستاسو نږدي قريبان کولاي شي چه د محکمي د دادګاه څخه پوښتنه وکړي چه ووايي چه تاسوباید په روغتون کي پاته نشي. دغه نشريه تشريح کوي چه څوک ستاسو نژدي قريبان دي.

## د محکمي دادګاه څه شي دي او څه پيشيږي؟

د محکمي دادګاه يو مستقل هيئت دي چه کولاي شي فيصله وکړي چه ايا تاسو ته بايد اجازه درکړل شي چه روغتون ترک کړي. کيداي شي چه دوي ستاسو سره او د روغتون د کارکونکو سره چه تاسو وپيژني يو مجلس ونيسي. دغه مجلس د ًاوريدلً په نامه ياديږي. تاسو کولاي شي چه ځيني نورو کسانو څخه غوښتنه وکړي چه دوي تاسو سره د اوريدلو مجلس ته د مرسی د پاره راشي، که چيري تاسو وغواړي. د اوريدلو نه د مخه، د محکمي د دادګاه غړي ستاسو د مواظبت په باره کي د روغتون له خوا راپورونو لولی. د محکمي دادګاه د غړو د جملي څخه يوه کس کيداي شي چه راشي او تاسو سره خبري وکړي.

## کله زه کولاي شم چه د محکمي د دادګاه دپاره وړانديز ورکړم؟

پس له دي څخه چه ستاسو د روغتون امر د شپږ مياښتو دپاره تعين شو، تاسو دواړه يعني تاسو او ستاسو نږدي قريبان کولاي شي چه د محکمي د دادګاه څخه يوه وار د راتلونکو شپږ مياښت د پاره درخواست وکړي . تاسو دواړه کولاي شي چه يوه مراتبه د هره کال په جريان کي چه تاسو په روغتون کي ساتل کيږي درخواست وکړي.

که چيري تاسو وغواړي چه د محکمي د دادګاه دپاره درخواست ورکړي تاسو کولاي شي چه دغه شي لاندی آدرس ته وليکي:

ceThe Tribunals Servi
PO BOX 8793
5th Floor
Leicester
LE1 8BN

تيلفون:0845 2232022

تاسو کولاي شي چه د یوه وکیل څخه غوښتنه وکړي چه محکمي ته ستاسو دپاره ولیکي او تاسو سره د اوریدلو په جریان کی مرسته وکړي.
روغتون او د حقوقی تولنه وکیلانو یو لست لري چه ځوک په دغه کي متخصص دي. تاسو مجبور نه یي چه د مرستي د یوه وکیل دپاره پیسي ورکړي. دغه د قانوني مرستي د پلان په اساس چارج نلري او مفت دي.

## څه علاج ماته ورکول کیږي؟

ستاسو د معالجي مسئول شخص او نور د روغتون غړي تاسو ته د هر علاج په باره کي چه دوي فکر کوي چه تاسو د خپل دماغي ناروغي د پاره ضرورت لري خبري کوي. په اکثر قضایا کي تاسی مجبور یاستی چه د دوي مشوري ومني.

پس له دري میاشتو، دلته مخصوص مقررات د هر دوا او درمل دپاره چه تاسو ته د ستا د دماغي ناروغي دپاره ورکول کیږي، وجود لري. که چیري تاسو دغه دوا او درمل نه غواړي، او یا تاسی سخت ناروغ ئي چه ووایي چه ته غواړي، یو ډاکټر هغه څوک چه دي روغتون سره کومی اړیکي نه لري تاسو معاینه کوي. هغه مستقل ډاکټر تاسو سره او د روغتون هغه کارکونکو سره چه تاسو وپیژني خبري کوي. مستقل ډاکټر فیصله کوي چه کومه دوا او درمل تاسو ته درکړل شی. بغیر د هغه که دغه یوه عاجله مسئله وي، دا یواځني دوا او درمل دي چه پرته د تاسو له موافقی نه تاسو ته ورکول کیږي.

دغه مستقل ډاکټر د یوه SOAD ( د دوهمی نظریی ښودونکي ډاکټر ) په نامه یادیږي او د یوه مستقل کمسیون په واسطه ښودل کیږي چه نظارت وکولاي شي چه د دماغي روغتیا مقررات څخه څنګه استفاده کیږي.

دلته مختلف مقررات د ځیني خاص علاج دپاره وجود لري، لکه د برقي تکان علاج (ECT). که چیري کارکونکي فکر وکړي چه تاسو یوه خاص علاج ته ضرورت لري، مقررات تاسو ته تشریح کوي او تاسو ته یوه بل نشریه درکول کیږي.

## اجازه ورکړي چه ستاسي نژدي قریبان وپوهیږي

د دغه نشریی یوه کاپي هغه کس ته ورکول کیږي چه د دماغي روغتیا مقررات ووایي چه هغه ستاسو نژدي قریب دي.

دلته د دماغي روغتیا په لایحه کی د خلکو یو لست دي چه کوم کسان ستاسو قریبان دي. په طبیعی ډول، هغه شخص چه په لست کي لومړیتوب لري هغه ستاسو نژدي قریب ګڼل کیږي. د روغتون کارکونکی کولاي شي چه تاسو ته یوه نشریه درکړي چه دغه تشریح کړي چه ستاسو نژدي قریبان ستاسو د مواظبت او اعلاج په ارتباط څه حقوق لري.

که چیري تاسو نه غواړي چه دغه سړي یوه کاپي د نشریی تر لاسه کړي، لطفاً خپله نرس او یا د کارکونکو کوم غړي ته ووایي.

## ستاسو د نژدي قریبانو بدلول

که چیري تاسو فکر کوي چه دغه ستاسو د نژدي قریبانو په حیث یو مناسب سړي نه دي، تاسو کولاي شي چه د مربوطه محل په محکمه کي د یو بل کس دپاره درخواست وکړي چه هغه وکولاي شي ستاسو د نژدي قریب په عوض چلند وکړي. د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسو ته یوه نشریه درکړي چه په هغه کي دغه تشریح شوي دي.

## ستاسو لیکونه

هغه ټول ليکونه چه تاسو ته راغلي دي د هغه وخت نه چه تاسو په روغتون کي ئي تاسو ته درکول کيږي.  تاسو کولاي شي چه هر چا دپاره خط وليږي پرته له هغه کسانو څخه چه دوي ويلي دي چه دوي نه غواړي ستاسو له خوا ليکونه واخلي. ليکونه دغو خلکو ته د روغتون د کارکونکو له خوا ځنډول کيږي.

## د تمرين كود

دلته د تمرين يو كود دي چه د روغتون كاركونكو ته چي د خلكو د دماغي روغتيا درمان كوى د دماغي روغتيا د لايحى په باره كي مشوره وركوي. كاركونكي مجبور دي چه كود تر كتني لاندي ونيسي چه كود څه ويلي دي كله چه دوي ستاسو د مواظبت په هكله تصميم نيسي.  تاسو كولاي شي  غوشتنه وكړي چه د كود يوه كاپي يى د كتلو لپاره دركړه شى كه چيري تاسو وغواړي.

## څنګه زه شكايت كولاي شم ؟

كه چيري تاسو وغواړي چه د ځني شيانو د سرته رسولو  په باره كى چى په روغتون كى ستاسو د مواظبت او علاج په تړاو دى شكايت وكړي ، لطفاً د كاركونكو د يوه غړي سره خبري وكړي.  كيداي شي چه دوي قادر وي چه موضوع حل كړي . همدا راز دوي كولاي شي چه تاسو ته د روغتون د شكاياتو د طريقي په باره كي معلومات دركړي، چه تاسو كولاي شي  د هغه نه په استفادي خپل شكايات د هغه له لاري تنظيم كړي چه د  داخلي حل په نامه ياديږي. همدا رنګه دوي كولاي شي چه تاسوته د ځني خلكو په باره كي چه  هغوي كولاي شي  ستاسو شكايت ته رسيدګي وكي خبري وكړي.

كه چيري تاسو احساس كړه چه د روغتون د شكاياتو طريقه نه شى كولاي چه تاسو سره مرسته وكړي ، تاسو كولاي شي چه يوه مستقل كمسيون ته شكايت وكړي. كمسيون نظارت كوي چه د دماغي روغتيا لايحى څخه څرنګه استفاده كيږي او اطمنان تر لاسه كوى چه هغى نه په صحيح توګه استفاده شوي ده او دغه ناروغانو ته د هغه وخت څخه چه دوي په روغتون كي دي په صحيح توګه توجه شوي ده.  د روغتون كاركونكى كولاي شي چه تاسوته يوه تشريح شوي نشريه دركړي چه څرنګه كمسيون سره ارتباط پيدا كړي.

## زيادتر مرستي او معلومات

كه چيري دلته ځني شيان ستاسو د مواظبت او علاج په باره كي وي  چه تاسو په هغه نه ياست پوه شوي، د كاركونكو  يو غړي كوشش كوي چه تاسو سره مرسته وكړي.  لطفاً د كاركونكو د يوه غړي څخه غوشتنه وكړي چه ستاسو د پاره يى تشريح  كړي كه چيري ځني شيان په دغه نشريه كي ستاسو دپاره واضح نه وي او يا تاسو په هغه پوه نشي او يا كه چيري تاسو بله پوښتنه لري چه دغه نشريه ځواب نه وركوي .

لطفاً غوښتنه وكړي كه چيري تاسو  علاقمندي لري چه د دغى نشريى يوه بله كاپي د يو بل چا دپاره وركړي.